لیکوال: سرتور ملنگ نیټه ۲۷-۱۲-۲۰۱۰

# جمهور رئیس او د هغه د مرستیالان څومره مصروف وی

د ډیر پخوا وخت نه راهیسی زما سره دا سوال وو چی دا زموږ جمهور رئیس به څومره مصروف وی آیا جمهور رئیس او د هغه مرستیالان به کله د ډوډی وخت هم پیدا کوی او دومره وخت به هم لری چی چای و ښځبنی او یا هم لمونځ و کړی زما به د دوی په حال ډیر زړه خو ږیده او کله کله به می ویل چی شکر ده چی زه رئیس جمهور نه یم ځکه ما فکر کاوو چی د دومره نا خوالو سره چی زموږ په هیواد کی موجودی دی له یوی خوا جنګ چی هره ورځ بیګناه کسان په کی مری میندی او خویندی په کی بوری او وراری کیږی په کورونو کی د غم ټغر خپور وی او ډیر خلک د خپلو دوستانو په ویر او ماتم کی شپی سبا کوی او له بلی خوا لوږه، بیکاری، اداری فساد او نورو د خلکو نه هر راز خوښی اخیستی او په ملیونو کورنی د یوی ګولی ډوډی د پیدا کولو لپاره خپل صغیر اولادونه همسایه ملکونو او نورو بهرنیو هیوادونو ته لیږی چی ډیر زیات ئی مخکی له دی چی هدف ته ورسیږی په لارو کی مری او تری تم کیږی او ځینی ئی په بحرونو کی د نهګانو خوراک ګرځی او یا هم د همسایه ملکونو په زندانونو کی د اعدامیدو په امید شپی او ورځی تیروی. اوس چی ژمی ده او هوا په شدت سره سړه دی ډیری کورنی په خیمو کی ژوند کوی او هر سهار په زرهاو کسان د کابل ښار په چوکونو کی د کار په امید ولاړ وی او که دوی ته نژدی یو موټر ټایر پنچر کړی او ودریږی نو دا خواران په دی فکر کی شی چی کوم د موټر خاوند موټر و دراوه او کار ګران ئی په کار دی نو په لس ګونو کسان د موټر خوا ته ور منډی کړی تر څو د ځان لپاره کار پیدا کړی ډیر کم تعداد کارګران د یوی ورځی د کار په پیدا کولو بریالی کیږی او نور بیا نا امیده کورونو ته بیرته ځی او د دوی له ورتګ سره ټوله کورنی نا امیده شی چی په همغه ورځ به دوی څه شی خوری په ډیرو ځایونو کی خلک د لوږی د لاسه خپلی نجونی خرڅوی او ځینی خلک بیا د نس د مړیدو په خاطر واښه خوری. ما سره دا فکر وو چی په هیواد کی دومره ناخوالی موجود دی نو حتماً به زموږ مشران هره ورځ د دی ناخوالو د حل کولو او خلکو ته د هوسا او آرام ژوند د برابرولو په کارونو لګیا وی او دسهار و ختی نه بیا تر نیمو شپو پوری به د خلکو د مشکلاتو د حلولو لاری چاری لټوی نو له همدی کبله به د خپل خوراک او ښځناک لپاره و خت نلری ما به کله کله حتی د دوی د خوب په باره کی هم فکر کاوو چی حتماً به زموږ جمهور رئیس او مرستیالان د شپی تر دوولسو بجو بیداره ناست وی او کار به کوی او حتماً به سهار په څلور و بجو بیرته له خوبه پاڅیږی او نه تنها لمونځ به کوی بلکی د هیواد د ګوټ ګوټ نه به احوال آخلی چی په شپه کی خو به کومه پیښه نه وی شوی. ما یو وخت په یوه اخبار کی د نړی د رئیس جمهورانو او صدر اعظمانو د خوب و ختونه لوستی وه چی اکثرو ئی تر پنځه ساعته زیات و خت د خوب لپاره نه لاره چی په هغو کی د برتانیا پخوانی صدراعظمه هم شامله وه او اوس می دقیق په یاد نه دی چی د امریکا د جمهور رئیس د خوب و خت ۵ که ٦ ساعته وو نو حد اعظمی د خوب و خت صرف د یو دوو رئیس جمهورانو ۷ ساعته وو ما به چی دی ته فکر و کړ چی په هغو هیوادونو کی خو نه جګړه شته او نه هم په کی په غټه کچه لوږه او بیکاری او دوی بیا هم دومره ډیر کار کوی نوبیا به می د خپل هیواد رئیس جمهور او دهغه د مرستیالانو په باره کی فکر و کړ او دا به می ویل چی زموږ په هیواد کی خو شاید زموږ جمهور رئیس او د هغه مرستیالان تر ۳-٤ ساعتو د خوب لپاره زیاد وخت و نلری او لکه مخکی می چی وویل زما به د دوی په حال ډیره خوا بدیده او د خدای پاک نه به می دوی ته د توفیق غوښتنه کوله ولی متاسفانه ما ډیر ژر خپلو اندیښنتو ته ځواب پیدا کړ سږ کال د څو میاشت لپاره دار الامان ته نژدی په ده دانا کی د یو دوست په کور کی اوسیدم او څرنګه چی زیات مصروفیت می نه درلود نو هر سهار به د ۹ بجو په شاو خوا کی د خپل دوست له کوره راوتم او ښار ته به تلم او ماسپښین به هم د رسمیاتو د ختمیدو په وخت کی او کله کله هم وختی بیرته د دار لامان په لور راتلم ما هره ورځ لیدل چی د دارالامان سرک به د نهو بجو نه وروسته بندیده او موټری به قطار و دریدی تر څو د جمهور رئیس مرستیال خلیلی صاحب تیر شی او ماسپښین به هم سمدستی د رسمیاتو له ختمیدو وروسته د دار الامان سرک بند شو تر څو بیا هم خلیلی صاحب موټر تیر شی د جمهور رئیس د مرستیال مو ټر به په ځمکه د طیاری په سرعت تیریده او خلکو به ورته ځمکینی طیاری و یلی عجیبه خو لا دا وه چی ماسپښین به معاون صاحب لا له دفتره نه وو را وتلی چی ټولو څلور لارو ته به مخابری و شوی او آمر به ورته و شو چی ټول موټر باید و دریږی خلک او هغه کسان چی د دار الامان په سرک به ئی تګ او راتګ کاوو د دی کار نه ډیر ستړی شوی وو او هر یوه به بدی او ردی خبری کولی یوه ورځ په ټکسی موټر کی یو کس چی ډیر ئی اعصاب خراب شوی وو وویل چی خدای دی په دی مظلوم ولس و رحمیږی او خدای دا ولس د دی رهبرانو له لاسه خلاص کړی هغه بیا زیات د فهیم له کړو وړو او د قاضی قضات نه شکایت درلود چی هغوی هم د تګ او راتګ په وخت کی سرکونه بنده وی او خلکو ته مزاحمت کوی په ټکسی یو کس چی له لباس او خبرو ئی معلومیده چی حتماً یو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

څه کاره ده هغه زیاته کړه چی داکسان کله چی خپلو د فترو ته ولاړ شی یو ئی هم د خلکو او ولس په غم کی نه دی بلکه یوازی ټوله ورځ په دی فکر کی وی چی څه قسم د بیت المال نه غلا و کړی او ټوله ورځ د خپلو شخصی معامله ګرانو سره دید او بازدید کوی او په ټلیفونو کی هم هغو ته هدایت ورکوی او که چیری کوم څوک د یو کار د خلاصولو لپاره د دوی لیدو ته ورشی نو بیا په ساعتونو او ورځو ورځو دوی نشی لیدای هغه کس بیا ویل چی فهیم په دفتر کی د تیلو او ګاز په معاملو لګیا وی او قاضی قضات ته خو د ور تلو او لیدو هیڅ امکان نشته. نو ما د ځان سره وویل چی موږ خو د همدی بی کفایته او په فساد ککړو رهبرانو له لاسه همداسی خوار او بد بخته یو چی ورځ تر بلی مو ژوند خرابیږی او د هیواد سیاسی، اجتماعی او آمنیتی و ضعه مخ په ځوړروانه ده. و ختی چی د جمهور رئیس مرستیالان هره ورځ تر رسمی وخت یو ساعت وروسته له کوره را وځی ا او ماسپښین هم یو ساعت مخکی او یا هم د رسمیاتو له خلاصیدو سره سم له دفتره وځی نو خو معلومداره خبره ده چی حتماً به کرزی صاحب هم له دفتره وځی او که کرزی صاحب په دفتر کی کښینی او کار و کړی نو معاونین به ئی هم مجبوره شی تر څو په دفتر کی تر نا وخته پوری کار و کړی همدا علت ده چی وزارتخانی او ټولی دولتی اداری په فساد خانو بدلی شوی اوله هیچا سره هم دکار او خدمت کولو فکر نشته او هیڅوک هم په دی فکر کی نه دی چی د هیواد د آبادی او د خلکو د هوسائی په خاطر کار و کړی. دلته دولتی دنده د غلا او چور وسیله ده او هیڅوک هم دلته د آهلیت، استعداد فهم او کاری تجربو په بنا نه دی مقرر شوی او په خاص ډول خو د جمهور رئیس مرستیالان یوازی او یوازی دوی دا مقامونه د امتیاز په بدل کی اخیستی دی او هیچا ته هم مسئول نه دی او نه هم څوک د دی حق لری چی د دوی نه پوښتنه وکړی. خو په دی خوشحاله شوم چی نور د هغو د ډوډی خوړلو او خوب کولو په باره کی کوم تشویش و نکړم بلکه په دی هیواد کی چی د هر چا مقام لوړ وی نو هغه زیات دخوراک، عیش او نوش او تفریح لپاره وخت لری ځکه له یوی خوا د هری ورځی په تیریدو د هغو او د هغو د متعلیقینو د آینده ژوند پانګه اضافه کیږی او د زامنو، لمسیانو او کړوسیانو د بی وزلی له تشویش نه خلاصیږی او له بلی خوا هر څومره چی د دوی مقام لوړ وی په همغه اندازه دوی له پوښتنی اوسوال او ځواب نه خلاص دی نو یو چا ته چی د ژوند ټول امکانات اماده وی او هیڅ قسم تشویش و نلری او نه د چا په غم کی وی بلکی د نورو خرابی د ځان په ګټه بولی نو خو خامخا به ښه آرام ژوند کوی که کومه ورځ تبه ورباندی راغله نو بس طیاره او ویزاوی حاضری دی او د د نیا بهترینی شفاخانی او عالی ترین طبی امکانات د دوی په خدمت کی دی.
خدای دی په دی خوار او ځوریدلی ولس و رحمیږی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ